# د ماشومتوب د واکسینو مهالویش

NHS
Staffordshire and Stoke-on-Trent
Integrated Care Board

د واکسینونو په اړه معلومات ستاسو د ماشوم/ماشومې د 'Red Book' روغتیا په ریکارډ کې هم موندل کیدی شي. کله چې ستاسو د ماشوم/ماشومې د واکسینو یا خوندي کولو وخت وي، نو ستاسو GP سرجري به ستاسو سره اړیکه ونیسي.



## عمر، 8 اوونۍ

**په 1 کې 6** (دوز 1)

د خناق، تیتانوس، تور ټوخي، پولیو، هیموفیلس انفلوینزا ډول B او هیپاتیت بي باکتریایي او ویروسي ناروغۍ څخه محافظت کوي، چې کوچنیان او ماشومان په ځانګړې توګه له دې ناروغیو څخه زیان منونکي وي.

**MenB** (دوز 1)

د مغزو د پردې د پړسوب تر ټولو عامه ناروغي چې دماغو ته جدي زیات رسولی شي.

**روټاوایروس** (دوز 1)

د معدې یوه ډیره ساري ناروغي.

## عمر، 12 اوونۍ

**په 1 کې 6** (دوز 2)

**نیوموکوکل واکسین**

د سینه بغل یا نمونیا څخه د غوږ د انتان پورې د یو لړ باکتریایي انتاناتو څخه محافظت کوي.

**روټاوایروس** (دوز 1)

## عمر، 16 اوونۍ

**په 1 کې 6** (دوز 3)

د واکسینو یو دوز یوازې جزوي محافظت چمتو کوي. د بشپړ خوندیتوب ترلاسه کولو لپاره ستاسو ماشوم/ماشومه ټولو دوزونو ته اړتیا لري.

**MenB** (دوز 2)

## عمر 1 کال

**Hib/MenC**

د ناروغیو څخه ساتنه کوي او د 1 په 6 کې دمخه ترلاسه شوي محافظت ته وده وکوري.

**MMR** (دوز 1)

شرى، چرک او روبیلا. ټول جدي ساري او په احتمالي توګه اوږد مهاله زیان رامنځته کوونکي ناروغۍ دي.

**نیوموکوکل واکسین** (دوز 2)

**MenB واکسین** (دوز 3)

## عمر 2 کاله

**زکام** (کلنی)

د پزې سپرى. ماشومان یې (په اسانۍ نورو ته انتقالولی) شي.

په آسانۍ خپروونکی هغه کس ته ویل کیږي چې ساري ناروغۍ ګڼ شمیر کسانو ته په غیر معمولي ډول خپرولی شي.

## عمر، 3 کاله او 4 میاشتې

**MMR** (دوز 2)

**په 4 کې 1 پري سکول بوسټر**

د خناق، تیتانوس، تور ټوخي او پولیو پر وړاندې موجود محافظت زیاتوي.